

monthly Logar

میاشتنی خپرونه

لوګر
ماهنامه

پنجشنبه د۱۳۹۷ کال دمرغومي د میاشتې شپږمه، د ۲۰۱۸ عیسوي کال د ډسمبراوویشتمه ۴ پرله پسې ګڼه (۹۹) لومړی کال، اتمه ګڼه


# پل علم ښوونکو ته د نومرو د وېش لړۍ رسماً پیل شوه

دلیندۍ ۲۲ مه:
د لوګر په مرکز پل علم پورې اړوند ښوونکو ته د کورونو نومرو د وېش لړۍ د ولایتي مسؤلینولخوا د پټۍ په پریکولو سره رسماً پیل شوه .

په همدې موخه په جوړه شوې غونډه کې لوګروالي الحاج محمد انور اسحاقزي، امنیه قومندان محمدابدالي، دڅلورمې پلې لواء قومندان برید جنرال عبدالرازق ساپي، داطلاعاتواوفرهنګ رییس محمد شفیق پوپل، د ولایتي شورا رییس حسیب الله ستانکزي او دیادې شورا مرستیال او غړو یې، د پوهنې رییس عبدالوکیل کلیوال، ملي امنیت رییس،دولتي ادارو مسؤلینواو ګڼ شمیر ښوونکو پکې برخه لرله.

د پوهنې رییس عبدالوکیل کلیوال په پیل کې ټولو ګډون والو ته دښه راغلاست ترڅنګ مبارکي ووېله او له هغو ټولو مسؤلینو څخه یې مننه وکړه، چې د یاد ښارګوټي د نمرو د وېش په پروسه کې یې منډې ترړې کړي دي.کلیوال ښوونکي د هېواد اصلي او واقعي اتلان یاد کړل او زیاته یې کړه، چې د ښوونکو ژوند ته باید ځانګړې پاملرنه وشي. وروسته د ولایتي شورا رییس حسیب الله ستانکزي ټولو ښوونکو ته مبارکي ورکړه او زیاته یې کړه چې ښوونکي به د تعرفې د پیسو له ورکړې پرته دغه نومرې ترلاسه کړي.

د لوګر والي الحاج محمد انور خان اسحاقزي ښوونکو ته وویل: ولس او وطن په تاسو ویاړي او ستاسې دنده تر ټولو پاکه او مقدسه دنده بلل کېږي. والي زیاته کړه د ښوونکي مقام او منزلت په ټوله نړۍ کې لوړ دی؛ خو متاسفانه چې زموږ په وطن کې ورته بشپړ امتیاز نه ورکول کېږي.

لوګر والي وویل:د ځمکو د غصب لپاره یې ځانګړې کمیسیون ټاکلی او غاصبین به نیسي او د قانون منګولو ته به یې سپاري.

دلوګر د پوهنې ریاست ویاند محمد شاه پور عرب وویل، دغه ښارګوټی د پل علم ښار شمال لویدیځ خواته د شیر وازې په سیمه کې دولتي پوهنتون ته نږدې موقعیت لري.

عرب زیاته کړه، د یاد ښارګوټي لپاره ۳۵۰ جریبه دولتي ځمکه ځانګړې شوې ده، چې ښوونکي به په خپل لګښت کورونه جوړ کړي.

عرب وویل، یاد ښارګوټی د استوګنې شاوخوا ۱۰۰۰ نومرې لري، چې یواځې د پل علم ښوونکو ته به په کې د کورونو د جوړولو لپاره یوه یوه نمره ځمکه ورکړل شي.



عرب زیاته کړه؛ په دې ښارګوټي کې ښوونکو ته د نومرو د وېش لړۍ شفافه ده او ټولو مستحقو ښوونکو ته به د ټاکل شوي کمېسیون له خوا د کورونو نومرې ووېشل شي.

دعرب په وینا تر دې مخکې د محمدآغې، خوښۍ او بره کي برک ولسوالیو د ښوونکو ښارګوټي پرانیستل شوي، چې ډېرو ښوونکو د ځانونو لپاره کورونه په کې جوړ کړي دي.

دلوګر د پوهنې ریاست دمعلوماتوله مخې؛ په راتلونکي نوي کال کې به د ازرې،څرخ او خروار ولسوالیو د ښوونځیو د ښوونکو ښارګوټي مقدماتي کارونه به هم پیل شي.

## د معلولیت لرونکو وګړو، نړیواله ورځ په لوګر ولایت کې ولمانځل شوه

دلیندۍ ۲۲ مه: دمعلولیت لرونکو نړیوالې ورځې په مناسبت په لوګر ولایت کې یاده ورځ د لوګر ولایت د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو ریاست کې غونډه نیول شوې وه، چې پکې د لوګر والي الحاج محمد انور خان اسحاقزي، ولایتي شورا رییس حسیب الله ستانکزي او مرستیال ډاکټر عبدالولي وکیل، د یادې شورا غړي محمد ناصر غیرت، سلاکار احمد خالد ساپي، د سیندیزې حوزې مشرې زهره مطهر احمدزۍ او ګڼو معلولینو او د شهیدانو ورثه وو ګډون کړی ؤ.

په پیل کې د لوګر د معلولیت لرونکو وګړو او شهیدانو د ورثه وو د ملاتړ ادارې مشر صدیق الله احمدزي د مرکزي ادارې پیغام ولوست او وروسته د لوګر والي الحاج محمد انور خان اسحاقزي وینا وکړه.

والي د مبارکۍ ترڅنګ وویل: موږ باید معلولینو ته خدمت وکړو او دوی وهڅو تر څو خپله اراده غښتلې وساتي او تر بل هر چا خپل کارونه په ښه ډول ترسره کړي.

اسحاقزي معلولین زړه ور او ویاړمن خلک یاد کړل او څلو ښت کلنه روانه جګړه یې د ټولو بدبختیو ریښه یاده کړه.

د ولایتي شورا رییس حسیب الله ستانکزي وویل: ډېر خوښ یم چې په دغه ناسته کې ګډون کوم او له لوی الله (ج) له درباره غواړم چې په وطن کې سوله راشي تر څو یاده بدبختي او جګړه پای ته ورسېږي.

د معلولینو په استازیتوب ظابط شاه محمود خبرې وکړې او د لوګر له والي نه یې وغوښتل، چې له دوی سره هر ډول مادي او معنوي مرسته وکړي. ده معلولین مجبور قشر یاد کړل او ویې ویل چې معلولینو د هېواد او خاورې لپاره قرباني ورکړې ده.




لوګر والي الحاج محمد انورخان اسحاقزي د پوره همکارۍ ډاډ ورکړ او ویې ویل؛ چې د شهیدانو ورثه وو او معلولینو ته به د یوې یوې نومرې ځمکې د ورکړې لپاره خپلې هڅې وکړي.

په پای کې د کار او ټولنیزو چارو ریاست رییس شاه محمد ولي زوی د خپلې تېرې دوه کلنې کاري دورې په لاسته راوړنو رڼا واچوله او له والي څخه غوښتونکی شو، څو د شهیدانو د ورثه وو لپاره د ښارګوټي د ورکړې لپاره لازیاته همکاري وکړي.

**د لوګر د رسنیو مرکز**

## لوګر پوهنتون ته نوي رییس وروپېژندل شواو په دنده یې رسماً پیل وکړ

دلیندۍ ۲۸ مه:پوهنیار عبدالناصر ستانکزی د لوګر پوهنتون د نوي رییس په توګه په دندې پیل وکړ او رسماً د پوهنتون اداري او تدریسي پرسونل ته وروپېژندل شو.



په همدې اساس د ولایت مقام کې ځانګړې مراسم نیول شوي ؤ، چې پکې د لوګر والي الحاج محمد انور خان اسحاقزي،د ولایتي شورا رییس حسیب الله ستانکزي، ولایتي شورا مرستیال ډاکټر عبدالولي وکیل،د کندهار پوهنتون رییس پوهنوال حضرت میر توتاخېل،د لوړو زده کړو له وزارت څخه راغلي پلاوي،استادانو ،قومي مخورو او د رسنیو ځینې استازو ګډون کړی ؤ.

پوهنیار عبدالناصر ستانکزی د ماسترۍ تر کچې زده کړې لري او تر دې وړاندې یې په ځینو پوهنتونونو کې د استاد په توګه دنده ترسره کړې ده.

لوګر والي الحاج محمد انور خان اسحاقزي د پخواني رییس پوهندوی وحید الله عبدالرحیم زي کړنې وستایلې او نوي رییس پوهنیار عبدالناصر ستانکزي ته یې د مبارکۍ ترڅنګ د بریالیتوب دعا وکړه .

د یادونې وړه ده، چې پوهندوی وحید الله عبدالرحیم زی به د دوکتورا د اخیستو لپاره ایران هېواد ته ولاړ شي.

## دانش آموزان یک لیسه فراغت شانرا جشن گرفتند

شاگردان لیسه مرکزی حضرت عمر فاروق(رض) فراغت شانرا از صنف دوازدهم جشن گرفتند.

محفل که به همین مناسبت بااشتراک الحاج محمد انور خان اسحاقزی والی لوگر، حسیب الله ستانکزی رئیس شورای ولایتی، محمد شفیق پوپل رئیس اطلاعات وفرهنگ ،قومندان لوا چهارم اردوی ملی،روسای برخی ادارات دولتی، مسئولان معارف،دانش آموزان ووالدین شاگردان در تالار شهرداری پل علم به تاریخ 25 قوس تدویریافته بود نخست لطف الله ستانکزی آمر لیسه مرکزی حضرت عمر فاروق در سخنانش هدف از برگزاری این گردهمایی پرشکوه را تشویق جوانان در راستای تعلیم وتربیه خوانده افزود که 180 تن از صنف دوازدهم لیسه یادشده فارغ گردیده است.

آقای ستانکزی علاوه کرد که فارغان سال گذشته لیسه حضرت عمر فاروق با سپری نمودن امتحان کانکوربه پوهنځي های خوب راه یافتند.

بعداً شهزاده توحید مل عضو اکادمی علوم کشور، محمد شفیق پوپل رئیس اطلاعات وفرهنگ ،داکتر عبدالولی وکیل معاون شورای ولایتی، حسیب الله ستانکزی رئیس شورای ولایتی،شیمازرگررئیسه امور زنان هریک باالنوبه درصحبت های شان ضمن تبریکی فراغت شاگردان افزودند که جای بسا خوشی وافتخار است که شاگردان در شرایط کنونی توانستند یک بخش تعلیم خویش را به پایه اکمال رسانیدند.




همچنان سخنرانان علاوه کردند که والدین شاگردان در شرایط ناگوار کشور بالای اولاد هایشان درس خواندند آنان از دانش آموزان خواستند که آرمان های والدین ومردم زجر کشیده کشور را برآورده نمایند. الحاج محمد انور خان اسحاقزی والی لوگر در صحبت هایش گفت:جای بسا خوشی است که تعداد از جوانان ما از صنوف دوازدهم فارغ گردیدند باید سعی نمایند تا دوره لیسانس خویش را نیز تکمیل نمایند.

والی لوگر افزود که انقریب کار توزیع نمرات شهرک معلمین آغاز خواهد شد وی همچنان افتتاح پروژه راه ابریشم را برای تمام مردم تبریک گفت.

در اخیر محفل شاگردان ممتاز وفارغین صنوف دوازدهم از سوی رهبری ولایت لوگر مورد تقدیر وتحسین قرار گرفتند.

**محمد موسی »عدیل«**

## خشونت علیه زنان درولایت لوگر افزایش یافته است

14قوس:
خشونت علیه زنان درولایت لوگر امسال نسبت به سال گذشته بیش از پانزده درصد افزایش یافته است.



خشونت علیه زنان یکی ازمعماهای پیچیده درکشورمحسوب میشود وهمواره قربانی های با خود داشته است،اکثرمحققین انگیزه اصلی خشونت را درعدم فهم وآگاهی مردم ازرهنمودهای اسلامی میداند ومی گویندکه دین اسلام برای زن حقوق وامتیازات کامل را قایل شده است.

شیمازرگر رئیسه امورزنان ولایت لوگر به تاریخ 14 قوس به آژانس باختر گفت: درجریان امسال پنجاه ودو قضیه خشونت علیه زنان درولایت لوگر واقع شده است که سی ویک قضیه آن درریاست امورزنان ثبت میباشد وهشده قضیه آن مورد پیگرد قرارگرفته است.

رئیسه امورزنان لوگرعلاوه کردکه درجریان سال جاری سه قضیه قتل نیزرخ داده است و بیشترین قضایا لت وکوب ، دعوای میراث ، نفقه وفرار از منزل می باشد .

خانم زرگر افزود : درسال گذشته چهل ویک قضیه خشونت علیه زنان دراین اداره ثبت شده بود که امسال این آمار بیش ازپانزده درصد افزایش را نشان میدهد .

وی علت افزایش خشونت ها را تدویر ورکشاپ ها وبرنامه های آگاهی دهی عنوان نمود وافزود: زمانیکه برای خانم ها ازطریق برنامه های آگاهی دهی پیرامون حقوق آنها معلومات ارایه شده است سطح آگاهی آنها بالا رفته است ووقتیکه ازفامیل شان حق وحقوق خودرا خواستارشده اند ، موردخشونت قرارگرفته اند .منبع اضافه کرد یگانه علت خشونت علیه زنان عدم آگاهی از مسایل اسلامی است وباید همه فامیل ها مطابق به دساتیرقوانین اسلامی ازخشونت جلوگیری نمایند .

بصیره ستانکزی یکتن از کارمندان ریاست اطلاعات وفرهنگ می گوید برای زنان دین مبین اسلام حقوق کامل را قایل شده است ودرجامعه افغانی بیشترزنان ازاین حقوق محروم اند ، وی نقش خانمان را درکسب علم ودانش نهایت مهم وارزنده تلقی نمود وافزود که باید فامیل ها بجای خشونت دختران شانرا به فراگیری علم ودانش تشویق نمایند. **امین الله (صفا)**

## سه تن سارقین درلوگردستگیرشد

پل علم باختر 8قوس،
سه تن سارقین حین سرقت یک خانه درمرکز ولایت لوگرازسوی پولیس قومندانی امنیه لوگردستگیرشدند.

شاپور احمدزی سخنگوی فرماندهی پولیس ولایت لوگربه تاریخ 8 قوس به آژانس باختر گفت: سه تن سارقین که میخواستند درشهرپل علم اموال یک خانه مسکونی را به غارت برند از سوی پولیس حین سرقت نمودن اموال دستگیر شده اند.

احمدزی افزود که حین رسیدن پولیس به ساحه سارقین میخواستند که فرار نمایند که یک تن آنان در شلیک پولیس زخم برداشته است.

همچنان سخنگوی فرماندهی پولیس ولایت لوگر علاوه کرد که این سارقین باشنده گان ولایت کنرهستند که چندین خانه مسکونی در شهر پل علم را متلاشی نموده اند.

**محمد موسی (عدیل)**


لوګر Logar

د امتیاز خاوند : د اطلاعاتواوفرهنګ ریاست
مسؤل مدیر : شیرمحمد»امیني« ستانکزی ۰۷۰۵۱۰۶۶۲۸
کتونکي ډله : امین الله »صفا« او محمد زاهد»سلطاني«
خبریال : محمد موسی»عدیل«
ډیزاینر : ش .امینی ستانکزی

یادونه : لوګرمیاشتنی خپرونه دسرلیکنې پرته؛ دلیکوالانو دلیکنو ننګه نه کوي اومسؤلیت یې دلیکوال پرغاړه ده .

فیسبوک پاڼې: دلوګرداطلاعاتواوفرهنګ ریاست/ www.facebook.com
لوګرمیاشتنی / www.facebook.com

که چیرې لیکنې لرئ چې په لوګرمیاشتنۍ کې خپرې شي، نو کولی شي چې په لاندې پته یې را واستوئ.
داړیکې شمیره : ۰۷۴۴۴۲۶۴۲۸
دبرېښنالیک پته : Shir.stanikzai2@gmail.com
نوی عزیزی مطبعه

This document was created with Win2PDF available at http://www.daneprairie.com.
The unregistered version of Win2PDF is for evaluation or non-commercial use only.